# بسم الله الرحمن الرحيم

## د غونډې خبرې

هغه ګران بیه میراث چې اهلبیتو(ع) له ځانه وروسته پریخی دی او د هغوي لارویانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب یوه کامله بیلګه ده چې د اسلامي علومو بیلا بیلې څانګې لري. او د علم ډیر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بیلا بیلو سوالونو، شبهو فکري بې لاریو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پیړیو کې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالی غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري یې اختسې ده ـ د رسالت له حریمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندی شوی ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو همیشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبیتو نړیواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبیت (ع) د ریښتني لارویانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې همیشه دې تهمتونو لرې کولو ته تیار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانی د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبیتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول كړى دى، كتابونه چاپ كړي او د حقيقت د چينې تږو ته يې وړاندې كړي.
دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليكل شوې كتابونه او تحقيقات هم چاپ كړي دي چې دا كتابونه به هم د حقيقت د لټوونكو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه كې چې عقل په تكامل او پوره كيدو دى، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفى غونډې پريخي دي غوږ كيدي.
هيله لرو چې د دې غونډې د كتابونو لوستوونكي به مونږ له خپلو قيمتي وړانديزونو او ښو نيوكو څخه خبر كړي.
همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه كوونكو ته بلنه وركوو چې د ګران پيغمبر(ص) دين په خپروني كې له مونږ سره مرسته وكړي.
له خدايه دا سوال كوو چې زمونږ دا وړكې غوندې كوښښ په خپلې درګاه كې قبول كړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشريف) د سوري لاندې نور توفيق هم راكړي.
دې ځاي كې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحيم دراني څخه مننه وكړو چې د دې كتاب په ژباړې كې يې له مونږ سره مرسته وكړه او همدارنګ له هغې كسانو چې د دې كتاب په پوره كيدو كې يې له مونږ سره مرسته كړې، په بيله توګه هغه كسان چې د ترجمې په اداره كې كوښښ كوي.

د اهلبيتو(ع) د نړيوالې غونډې
فرهنګي معاونت

# دويم امام حضرت امام حسن عليه السلام

زوکړه:

د اسلام د ګران پيغمبر(ص) لمسى او د حضرت على عليه السلام او بي بي فاطمه (ع) لومړى ځوې امام حسن عليه السلام د هجرت په دريم کال د روژې د مياشتې په پنځلسمه نيټه وزيږيدۀ.[1] پيغمبر(ص) د مبارکى لپاره حضرت على عليه السلام کره ورغى او د خداي په حکم يې د هغۀ نوم "حسن" کيښود.[2] امام حسن عليه السلام د خپل عمر قابو اوۀ کاله له خپل نيکۀ پيغمبر(ص) سره تير کړل.[3] او نيکۀ به ورسره سخته مينه لرله. اکثره به يې په اوږو کيښنولو او ويل به يې

---

1 . ارشاد مفيد ص 169، تاريخ الخلفاء سيوطي ص188

2 . بحارالانوار ج 43 ص 238

3 . دلائل الامامه .محمد بن جرير الطبري ص 60

خدايه زۀ له دۀ سره مينه لرم تۀ هم ورسره مينه ولره [4]
پيغمبر(ص) وفرمايي: "څوک چې حسن عليه السلام او حسين عليه السلام سره مينه وکړي، له ما سره يې مينه کړې ده او څوک چې له دغو دوؤ سره دښمني وساتي له ما سره يې دښمني کړې ده". [5]
همداراز فرمايي: حسن عليه السلام او حسين عليه السلام د جنت د ځوانانو سرداران دي. [6] يو بل ځاې کې فرمايي: زما دا دوه زامن امامان دي که قيام وکړي او که قيام ونۀ کړي [7].
د هغه امام شخصيت دومره لوړ ؤ چې ګران رسول (ص) به په هماغه وړوکوالي کې په ځنو ژمنو او تړونونو ګواه جوړولو.
"واقدی" وايي: پيغمبر (ص) د ثقيف لپاره د ذمې عهد او تړون وکړ. خالد بن سعيد دغه تړون وليکۀ او حسن عليه السلام او حسين عليه السلام يې ګواهي

---

4 . تاريخ الخلفاء ص 188، صحيح بخاري کتاب الحلق باب مناقب الحسن والحسين ، صحيح ترمذي ج 2 ص 307
5 . ابن ماجه فضائل حسن و حسين ،. مسند احمد ابن حنبل ج 2 ص 288 ، تاريخ خطيب بغدادي ج 1 ص 141
6 . صحيح ترمذي ج 2 ص 306 ،. مسند احمد ابن حنبل ج 2 ص 3-62-82 ، تاريخ الخلفاء ص 189
7 . بحارالانوار ج 43 ص 178 ، ارشاد مفيد ص 181

وركړه.[8] او كله چې پيغمبر(ص) د خداي په حكم د نجران له اوسيدونكو سره مباهلې ته لاړو. د خداي په حكم يې حضرت امام على عليه السلام، بي بي فاطمه (س)، امام حسن عليه السلام او امام حسين عليه السلام هم له ځان سره بوتلل او د هغوي په پاكۍ او پاك لمنۍ د " تطهير " ايت نازل شو.[9]

همدا شان امام حسن عليه السلام د پلار غړملى او ملګرى ؤ په ظالمانو به يې نيوكه او د ظلم ځپلو به يې ملاتړ كوؤ كله چې حضرت ابوذر "ربزې" ته جلا وطن كيدو حضرت عثمان (رض) حكم وركړو چې هيڅوك به يې نۀ بدرګه كوي خو امام حسن عليه السلام او امام حسين عليه السلام او د دوي پلار هغه ډير په عزت او احترام سره بدرګه كړو او د خداي پامانۍ په وخت كې يې د حضرت عثمان (رض) په حكومت نيوكه وكړه. او حضرت ابوذر (رض) ته يې د صبر او زغم نصيحت وكړو.[10]

د هجرت په 36 كال د خپل پلار په ملګرتيا بصرې ته راغى چې د جمل د جنګ اور چې بي بي عائشې او طلحه و زبير بل كړى ؤ، مړ كړي.

بصرې ته له ورتګه مخكې د حضرت امام على عليه السلام په حكم له لوي صحابي

---

8 . طبقات كبير ج 1 ،. دويم ټوك ص 33

9 . صحيح مسلم ، مشكواة شريف باب مناقب اهلبيت (ع) غاية المرام ص 287

10 . حياة الامام حسن عليه السلام بن على عليه السلام ص 261-262

حضرت عمار یاسر (رض) سره کوفې ته لاړ چې خلق تیار کړي او بیا له خلقو سره د امام علی علیه السلام د مرستې لپاره بصرې ته ستون شو[11] په خپلو ښکلو او کلکو تقریرونو سره یې د عبدالله بن زبیر هغه دروغ څرګند کړل چې د حضرت عثمان قتل یې په حضرت علی پوري تړلو. دغه شان په جنګ کې یې هم ډېره بهادري وښودله او کامیاب شو.[12]

د صفین په جنګ کې هم له پلار سره اوږه په اوږه ولاړ ؤ. په دې جنګ کې معاویه عبیدالله بن عمر هغۀ ته واستوۀ او وې ویل چې د خپل پلار حضرت امام علی علیه السلام له ملګرتیا لاس واخله نو تا به مشر کړو ځکه چې پلار دې په جنګونو کې د قریشو ډېر غټ غټ کسان وژلي دي او له دې امله ترې خلق نۀ دي راضي. خو په تا باندې ټول قریش راضي کیږي.

حضرت امام حسن علیه السلام ورته وویل قریشو غوښتل چې د اسلام بیرغ راکوز کړي خو زما پلار د خداي او اسلام په خاطر د هغوي سرغنه ووژل او هغوي یې تیت او پرک کړل نو خلق ځکه د هغۀ دښمنان شول او ورسره میرڅي کوي.[13]

امام حسن علیه السلام په دغه ټول جنګ کې د پلار ملګرې ؤ او کله چې د

11 . طبقات کبیر ج 3 جز اول ص 20
12 . حیاة الامام الحسن علیه السلام بن علي (ع) ج 1 ص 396-399
13 . حیاة الامام الحسن علیه السلام بن علي (ع) ج 1 ص 444-445

امام علی علیه السلام او معاویه د سپایانو لخوا دوه کسان غوره شول چې "حکم" شي او فیصله وکړي نو کله چې دوي ناروا حکم وکړ امام حسن علیه السلام پاڅید او د پلار په حکم یې یو ګرم او ولوله ناک تقریر کې وویل " تاسو دا دوه کسان ددې لپاره وټاکل چې د خداي له کتاب سره سمه فیصله وکړي خو دوي اپوټه کار وکړو نو داسې کس ته حکم او منځګړی نهٔ شي ویل کیدی بلکې داسې کس غندل شوی دی."[14]

امیرالمؤمنین حضرت امام علی علیه السلام د شهادت په وخت د هغه حکم مطابق چې پیغمبر(ص) ورته کړی ؤ امام حسن علیه السلام یې خپل جانشین او ځایې ناستی کړو او امام حسین علیه السلام او د دوي نور بچي ددې کار ګواهان شول.[15]

## خوي او خصلت

### پرهیزګاري:

امام حسن علیه السلام خداي پاک ته خاصه پاملرنه لرله. او ددې پام او توجه اثار به د اودس او چار اندام په وخت د دوي په مخ څرګندیدل د وضو په وخت به یې رنګ زیړ شو او رپیدو به. چا ورنه پوښتنه وکړه چې په تاسو

14 . حیاة الامام الحسن علیه السلام بن علي (ع) ج 1 ص 479 ، اسد الغابه ج 2 ص 13

15 . اصول کافي ج 1 ص 297-298

باندې داسې حالت ولې را ځي؟ ځواب يې
ورکړو څوک چې د خداي په درګاه کې
ودريږي پکار ده چې په همداسې حالت
سره وي.
امام صادق عليه السلام وايي چې امام
حسن عليه السلام د خپلې زمانې تر ټولو
عابد او پرهيزګار کس ؤ ځکه چې کله به
مرګ ورياد شو نو بې حاله به شو او
ژړل به يې.[16] پياده او کله هم پښې
ابلې يې 25 حجونه کړي وو.

## سخاوت:

يوه ورځ کعبې ته تلى ؤ. يو سړى يې
وليد چې خداي ته دعا کوي " خدايه
ماته لس زره درهمه راکړې " امام حسن
عليه السلام هماغه وخت کور ته راغى
او هغۀ ته يې لس زره درهمه وليږل.
يوه ورځ يوې کنيزې دوي ته په تحفې
کې يو خوشبوداره ګل ورکړو امام حسن
عليه السلام د دغه ګل په ځواب کې هغه
ازاده کړه او وې فرمايل: خداي پاک
مونږ داسي تربيت کړي يو بيا يې دا
ايت تلاوت کړو :
" وَ اِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَةٍ فَحَيُوا بِأَحْسَنَ
مِنْها (که تاسو ته چا څه څيز ډالۍ کړو
تاسو تر هغه غوره ځواب ورکړئ")[17]
په خپل ژوند کې يې درې ځله خپل ټول
مال ان تر پيزاره په دوو برخو وويشل
او د خداي په لار کې يې ورکړل.

---

16 . بحارالانوار ج 43 ص 331
17 . بحارالانوار ج 43 ص 343 – 342

## عـاجزي او زغم:

د شام يـو سړي يـوه ورځ د معـاويـه پـه لـمسون امـام حسن عليـه الـسلام تـه کـنځل وکـړل. امـام حسن عليـه الـسلام ورتـه پـه مسکـا سره سلام ووې او وې فـرمـايـل "ای مشره! داسي ښکـاري لـکـه چې غريـب وې او زمـا خيـال دی تـيـر وتـی يـې کـه زمـا رضـا غـواړې، زه راضي يـم او کـه زمـا نـه څـه څيـز يـا راهنمـايـي غـواړې هم تـيـار يـم. کـه پـه اوږه دې بـوج وي وړم يـې درسره، کـه وږی وې مړوم دې او کـه بـل څـه اړتـيـا لـرې يـا هر کـار لـرې پـوره کـوم يـې. کـه مونـږ تـه راشې نـو ډيـره بـه درتـه اسانـه وي ځکـه چې ستـا د مـلمستيـا لـپـاره هر څۀ تـيـار دي" هغـه سړی وشرميـدۀ، پـه ژړا شو او وي ويـل ګـواهي ورکـوم چې تـۀ پـه زمکـه د خداي رښتـونـې جـانـشيـن يـې. او خداي پـه خپـلـه ښۀ پـوهيـږي چې خپـل رسالـت چا تـه ورکـړي تـۀ او ستـا پـلار تـر نـنـنۍ ورځې پـورې زمـا ډيـر نـا خوښ کس ؤ خو اوس پـه دنـيـا کې تـر ټـولـو زيـاتـه ميـنـه لـه تـاسو سره لـرم. بـوډا سړي هغـه ورځ د امـام حسن عليـه الـسلام ميـلمـه شو او چې کـلـه لاړو نـو لـه هغې ورځې د امـام حسن عليـه الـسلام لـيـوالـه شو.[18]

مروان حکم چې تـل يـې امـام حسن عليـه الـسلام ځورولـی ؤ د امـام حسن عليـه الـسلام د شهـادت پـه وخت د هغـوي پـه جنـازه کې ګـډون وکـړ. امـام حسين عليـه

18 . بـحـارالانـوار ج 43 ص 344

السلام ورته وويل تا زما د ورور په ژوند کې هر هغه څۀ وکړل چې له لاسه د کيدل نو اوس ولې د هغۀ په جنازې کې شريک يې او ژاړې؟
مروان حکم وويل: هر څه چې مې وکړل له هغه چا سره مې وکړل چې د مدينې له غرۀ يې صبر او زغم زيات ؤ.[19]

## خلافت

د هجرت په څلويښتم کال د روژې د يوويشتمې نيټې په ماښام د حضرت على عليه السلام شهيد شو او د يوويشتمې په سهار خلق د ښار په جامع جومات کې راغونډ شول. امام حسن عليه السلام منبر ته اوختو او وې فرمايل : " بيګا داسي بې مثاله کس له دنيا سترګې پټې کړې چې په تيرو او راتلونکو کسانو کې د علم او کردار له نظره بې مثاله ؤ د پيغمبر(ص) په څنګ کې يې جنګونه وکړل او په نره يې د اسلام او پيغمبر(ص) دفاع وکړه. پيغمبر(ص) به هغه په جنګونو کې سپه سالار او سر لښکر په توګه استولو او هغۀ به تل بريالې او کامياب راستنيدو. د دنيا له سرو او سپينو يې تر 700 درهمو زيات ميراث پاتې نۀ شو. هغه هم د هغۀ حصه وه او خيال يې ؤ چې په هغې د خپلې کورنۍ

19 . تاريخ الخلفاء ص 191

لپاره یو خدمتګار ونیسي. دې خبرې ته چې راورسید نو امام حسن علیه السلام او خلقو ډېر وژړل او بیا یې له ددې لپاره چې امامت له خپلې سمې لارې بې لارې نشي څو جملې وویلې:

"زهٔ د هغه پیغمبر(ص) ځوې یم چې زیری راوړونکې او ویرووونکې ؤ او خلق یې خداي ته رابلل. زهٔ د پیغمبری د مشال شغله او له هغې کورنۍ څخه یم چې خداي پاک ترې ککړتیا او پلیتي لرې کړې او په قران کې یې د دوې مینه فرض کړې ده چې فرمایې: قُلْ لا أسْئَلُکُمْ عَلَیهِ اَجْرًا اِلا الْمُوَدَةَ فِی القُربی [20] ووایه (ای پیغمبره(ص)! زهٔ د دې (پیغمبری) په وړاندې او د دې په عوض کې له تاسو زما له اقرباوو او خپلوانو څخه له مینې علاوه بل څهٔ نهٔ غواړم "

بیا امام حسن علیه السلام کښیناست او عبدالله بن عباس(رض) پاڅید او وې ویل: "ای خلقو! دې (یعني امام حسن علیه السلام) ستا سو د پیغمبر(ص) نمسی د علی علیه السلام جانشین او ستا سو امام دی له دهٔ سره بیعت وکړئ"

خلق ډلې ډلې راغلل او له دوې سره یې بیعت وکړ. کله چې معاویه له دې خبر شو نو کوفې او بصرې ته یې جاسوسان ولیږل چې له دغو ځایونو رپوټونه راوړي او د امام په حکومت کې له دننه خرابي او ګډوډي رامنځ ته کړي. د امام حسن علیه السلام کسانو

20 . سورة شوری ایة **23**

هغوي ونيول او معاويه ته يې يو ليک واستوۀ چې د جاسوسانو له راستولو ډډه وکړي. ځينې هغه ليکونه چې امام حسين عليه السلام معاويه ته ليکلي او ابن ابي الحديد نقل کړي، دا دي:

"... د حيرانۍ ځائې دی چې قريشو د پيغمبر(ص) تر وفاته وروسته هغۀ په جانشينۍ جګړه شورو کړه. او ځان يې د عربو په نورو قبيلو په دې سبب لوړ وګڼلو چې د پيغمبر(ص) له قبيلې دي. عرب په مونږ راضي شول خو قريشو زمونږ فضيلت او لوړاوی ونۀ منلو مونږ چې پيغمبر(ص) ته تر هغوي زيات نزدې وۀ او خپل حق مو غوښتلو څنګ ته يې کړو او په مونږ يې ظلم وکړو مونږ له جنګ او دښمنۍ ډډه وکړه چې دښمنان او منافقان له دې لارې اسلام خراب نۀ کړي.

نن زۀ تا ته حيران يم چې د داسي کار (مشرئ او خلافت) غوښتوونکې يې چې له هيڅ نظره يې قابل نۀ يې، نه په دين کې په مونږ لوړ يې او نۀ دې چرته شۀ کار او شۀ تاثر پريښی دی ته د هغې ډلې بچی يې چې له پيغمبر(ص) سره وجنګيدل او له پيغمبر(ص) سره د قريشو تر ټولو زياتې دښمنې ډلې اولاد يې. خو پوه شه چې ستا د بدو کارونو سزا له خداي سره ده او وبه وينې چې بالاخره کاميابي د چا ده. په خداي قسم ډير زر به دې عمر پايې ته ورسيږي. خداي ته به ورشې او هغه به ستا د کړو سزا درکړي او خداي په خپلو بندګانو ظلم نه کوي. على عليه السلام لاړو او خلقو

زما په لاس بیعت وکړ. له خدایه غواړم چې په دنیا کې داسي څیز رانهٔ کړي چې په اخرت کې راته تاوان ولري.
ما دا لیک ځکه تاته ولیکو چې سبا د ځان او خداي تر مینځ عذر ولرم که ته هم د نورو مسلمانانو غوندې دا خبره ومنې نو د اسلام او مسلمانانو په ګټه ده او تا ته هم ډیره ګټه لري. د باطل پیروي مهٔ کوه او د نورو په شان زما بیعت وکړه.
تهٔ په خپله ښه پوهیږې چې زهٔ د دې کار لپاره تر تا ډیر قابلیت لرم. له خدایه وویریږه او ظلم مهٔ کوه او د مسلمانانو د وینې درنښت وکړه او که تیار نشې زه به له مسلمانانو سره ستا په لور درشم او محکمې (عدالت) ته به دې راکاږم چې خداي پاک چې تر ټولو ښهٔ فیصله کوونکی دی زمونږ تر مینځ حاکم شي."
معاویه په ځواب کې ولیکل: " . . . زما او ستا حالت داسې دې لکه ستا د کورنۍ د مشرانو حالت چې د ابو بکر (رض) په نسبت ؤ یعني لکه څنګه چې ابوبکر د ډیرې تجربې په بانه له علی علیه السلام څخه د خلافت مقام واخستو، زهٔ هم ځان تر تا غوره ګڼم، او که پوهیږم چې تهٔ د خلقو په چارو تر زما ښهٔ پوهیږې او له دښمن سره ښه مقابله کوې نو بیعت به مې کړی وی خو خبر یې چې زهٔ تر تا ډیره مخینه او تجربه لرم نو ښهٔ دا ده چې ته زما پیرو شې، زهٔ هم ژمنه کوم چې تر ما وروسته تهٔ د

مسلمانانو خليفه شې، د عراق ټول بيت المال ستا او د عراق د کومې سيمې درامد او خراج چې غواړې هغه هم تا ته در کوم ... والسلام "

معاويه په هماغه بانه چې قريشو د هغې په وسيله له على عليه السلام مخ واړولو، د امام حسن عليه السلام بيعت ونۀ کړو. معاويه ښه پوهيدو چې امام حسن عليه السلام تر هغه غوره دی. خو د مشرئ او رياست مينې د حقيقت له پيروئ منعه کړ، ځکه چې هغه په دې خبر ؤ چې کم عمري د عيسى او يحيى د پيغمبرئ خنډ نه وه نو په امام کې هم د عمر زياتوالى شرط نه دی.

معاويه نه يوازې بيعت ونۀ کړ بلکې د امام د شهيدولو کوششونه يې پيل کړل. او څو پټ کسان يې مقرر کړ چې امام شهيد کړي. په هم دې وجې امام حسن عليه السلام له جامو لاندې زغره اغوسته اؤ په مانځه کې به يې هم نۀ ويستله اؤ يوه ورځ چې معاويه پټو سپايانو هغوي په عشي وويشتل نو هيڅ تاوان ورته ونۀ رسيد [21]

معاويه چې د امام حسن عليه السلام په باره کې يې د عمر کمى بانه کولو او له هغه سره يې بيعت ونه کړو د يزيد د وليعهدئ په وخت يې دا خبره هيره شوه. خپل ځوان ځوې يې د ځان جانشين کړو او له خلقو يې د هغه لپاره بيعت وغوښتۀ.

---

21 . بحارالانوار ج 44 ص 33

معاویه د اسلامي وحدت د راوستلو او د کړ کیچ او بلوؤ د مخنیوي په بانه خپلو کسانو او مامورینو ته ولیکل چې یو لښکر جوړ کړي هغوي هم د معاویه په مشرۍ کې یو لښکر برابر کړو او معاویه هغه له امام حسن علیه السلام سره د جنګ لپاره عراق ته واستوۀ.

امام حسن علیه السلام هم حجر بن کندي ته حکم ورکړو چې قوماندانان او خلق جنګ ته تیار کړي، خلق د امام په بلنې جومات کې راغونډ شول. امام حسن علیه السلام منبر ته اوختو او وې فرمایل : " معاویه له تاسو سره د جنګ لپاره راغلی دی تاسو هم د "نخیلې" په فوځي اډه کې راغونډ شئ. د امام د دې خبرې په ځواب کې ټول غلي شول.

د مشهور سخي حاتم طاي ځوې "عدي" پاڅید او وې ویل زۀ د حاتم طاي ځوې یم، سبحان الله دا چپ ولې یئ؟ ولې د پیغمبر(ص) د ځوې خبرې ځواب نۀ ورکوئ له خدایه وویریږئ، لکه چې تاسو د شرم او بې ننګۍ څه باک نۀ لرئ؟ بیا یې امام ته مخ واړوۀ او وویل ستا خبره مو واوریده او په سر سترګو حاضر یو، زۀ همدا اوس کیمپ ته ځم. څوک هم چې غواړي له ما سره راتللی شي .

قیس بن سعد بن عباده، معقل بن قیس ریاحي او زیاد بن صعصعه تمیمي هم په ګرمو ویناؤ سره خلق جنګ ته وهڅول پوځ

يې برابر کړ او ټول جنګي کيمپ ته لاړل.[22]

په پوځې کيمپ کې د امام حسن عليه السلام له اصلي ملګرو علاوه دا کسان هم وؤ .

۞ خوارج، چې يوازي له معاويه سره د جنګ لپاره راغلي وؤ نه له امام سره د ملګرتيا لپاره.

۞ هغه لالچيان چې هدف يې يوازې جنګي غنيمت او ولجې وې.

۞ هغه کسان چې د خپلې قبيلې د مشرانو په پيروۍ راغلي وو او بل يې هيڅ مقصد او شوق نۀ ؤ .

امام حسن عليه السلام ځيني سپايان د "حکم" په مشرۍ کې انبار ښار ته وليږل خو حکم له معاويه سره يو ځاې شو د امام بل سپه سالار يا قوماندان له معاويه سره جوړ جاړی وکړو. مجبورا امام په خپله د مدائن "ساباط" ته لاړ او له هغه ځايه يې 12 زره تنه د عبيدالله بن عباس په مشرۍ له معاويه سره جنګ ته وليږل او قيس بن سعد بن عباده انصاري يې د هغه مرستيال کړ، چې که عبيد الله شهيد شي نو دې به سپه سالار شي.

معاويه کوششونه شروع کړل چې قيس وغولوي هغه ته يې لس لکه درهمه وليږل چې ملګرې يې شي يا د امام حسن عليه السلام ملګرتيا پريږدي. قيس ځواب

---

22 . نهج البلاغه ابن ابی الحديد ج 16 ص 37 – 40

وركړو چې په دوكې سره زما دين نشي اخستى څه دا كارونه بل چاته وكاروه.
د لښكر اصلي سپه سالار يعني عبيد الله بن عباس د پيسو په تشې وعدې دوكه شو او د شپې له يو څو سپايانو سره د معاويه په لور وتښتيدۀ سهار چې كله پته ولګيده چې لښكر بې مشره پاتې دى نو قيس خلقو ته مونځ وكړو او فوځ مشر شو او امام حسن عليه السلام له دې قيصې خبر كړى شو. قيس په ميړانتيا سره وجنګيدو معاويه چې كله د هغه د دوكه كولو څه لاره پيدا نه كړه د امام لښكر ته يې جاسوسان واستول چې په دروغه له معاويه سره د قيس د سولې اوازه خوره كړي او ځيني كسان يې د قيس لښكر ته وليږل چې مشهوره كړي چې امام حسن عليه السلام له معاويه سره سوله كړې ده [23] په دي طريقه خوارج او هغه كسان چې سوله يې نه غوښته په دي چال وغوليدل، په غوصي سره يې د امام په خيمې يرغل وكړ او لوټ مار يې پيل كړ تر دې چې د امام حسن عليه السلام د پښو لاندې درى يې هم وتښتوله او د امام په پتون يې دومره سخت ګوزار وكړ چې د ډيرې وينې بهيدنې په وجه د امام حالت ډير بد شو [24] د امام يارانو هغه د په مدائن كې د دغه ځايې د ګونر سعد بن مسعود ثقفي چې امام على عليه

23 . تاريخ يعقوبي ج 2 ص 207 – 204
24 . تاريخ يعقوبي ج 2 ص 207- 204 ، تاريخ طبري ، ج 7 ص 1

السلام مقرر کړی ؤ، ځایي ته یوړو څه موده د ثقفي په کور کې د امام علاج وشو په دي منځ او مان کې هغوي ته وویل شول چې د ځینو قبیلو مشرانو چې دیني مینه یې نه لرله یا یې د امام سره دښمني لرله معاویه ته په پټه لیکلي دي چې که عراق ته ورشي نو امام به ورته حواله کړي. معاویه د هغوي لیکونه امام حسن علیه السلام ته ولیږل، سوله یې وغوښته او وویل تهٔ چې کوم شرط هم لګوې زهٔ یې منم. [25] امام سخت ناروغه ؤ او یاران یې هم خوارهٔ وارهٔ وؤ. لښکریان او فوځیان یې هم په یوه خبره نه راغونډیدل او هر یو خپله باجه غږوله. امام حسن علیه السلام فکر وکړو چې في الحال جنګ د مسلمانانو په ګټه نه دی نو په ډیرو سختو او بدو شرائطو سره یې سولې ته غاړه کیښوده. [26]

ددغي سولې ځنې مادې دا دي:

- امام حسن علیه السلام د منوونکو سر او مال به محفوظ وي.
- حضرت امام علی علیه السلام ته به سر عام کنځل نهٔ کیږي [27]
- معاویه د "دارا بکر" د سیمې له عاید څخه لس لکه درهمه د جمل او

25 . ارشاد مفید ص 172-173

26 . تاریخ یعقوبي ج 2 ص 207 – 204

27 . ارشاد مفید ص 173، مقاتل الطالبین ص 26

صفين د جنګ په يتيمانو کې تقسيم کړي.
۞ امام حسن عليه السلام به معاويه ته اميرالمؤمنين نه واي.[28]
۞ معاويه ته پکار دي چې د خداي د کتاب او سنت په مطابق عمل وکړي .[29]
۞ معاويه به تر خپل مرګه وروسته خلافت بل چا ته نۀ ورکوي.[30]

معاويه دا شرطونه او نورداسي ډير شرطونه چې د اسلام او مسلمانانو د حفاظت لپاره ضروري وو، اومنل او جنګ ختم شو.
ځينو مستشرقينو چې دقيقه مطالعه نه لري د خپلو سطحي مطالعو او بې خبرۍ په وجه ګمان کړی دی. چې امام حسن عليه السلام له معاويه سره په جنګ کې سستي کړې ده او که سستي يې نوه کړي او پرله پسي کوششونه يې کړې وی نو کامياب شوی به ؤ. دغو کسانو که په ژور نظر سره د هغه وخت مسلم تاريخونه ښۀ مطالعه کړي وی او د قيصې ټولو اړخونو ته يې نظر کړی وی نو داسي

28 . بحارالانوار ج 44 ص 2-3
29 . بحارالانوار ج 44 ص 65، په دي حقله سوله نامې نه يوه بله جمله هم نقل شوي ده خو زمونږ په نظر صحيح نه ده ځکه دلته رانغله
30 . بحارالانوار ج 44 ص 65، په دي حقله سوله نامې نه يوه بله جمله هم نقل شوي ده خو زمونږ په نظر صحيح نه ده خکه دلته رانغله

فضول نتیجه به یې نهٔ اخسته ځکه چې
تاریخ ګواه دی چې امام حسن علیه
السلام د خپل ژوند رغاوونکې ورځې په
بهادرۍ سره د پلار په څنګ کې د جمل او
صفین په جنګ کې تیرې کړې او د دښمن
په فوځ تر زړه پورې یې مقابلې کړې،
توره یې وهلې او کامیاب راستون شوی
دی نتیجه دا چې امام حسن علیه السلام
له جنګه نهٔ ویریدهٔ هغه به په خپله له
معاویه سره جنګ ته خلق هڅول خو په
هغه خاصو شرائطو کې د هغوي سوله د دې
نه علاوه چې له داخلي نظره او د اسلام
د ګټې او د مسلمانانو د سر د حفاظت
لپاره ضروري وه د اسلام د بهرني سیاست
له نظره هم ژوره دور اندیشي وه ځکه
چې په دغو ورځو کې د ختیځ روم
امپراطوري چې اسلام پرې سخت ګوزارونه
کړي وؤ په کمین کې ناسته وه او د
داسي موقع په انتظار وه چې په مناسب
وخت خپله بدله واخلي.
کله چې امام حسن علیه السلام او
معاویه پوځیان یو بل ته مخامخ شول،
رومیانو هم د ناڅاپه او پټې حملې
سریزې برابرې کړې. او که امام حسن
علیه السلام جنګ جاري ساتلی وی، ممکنه
وه د اسلام وجود ته سخت تاوان رسیدلی
وی خو چې امام حسن علیه السلام سوله
وکړه نو د هغوي له لاسه هم موقعه
اووته.
تر دې خبرې زیات د هغو مستشرقینو
خبره فضوله او بې بنیاده ده چې وایي:
امام حسن علیه السلام ته معاویه تر

ځانه زیات قابل او لایق ښکاریدو ځکه یې له خلافته لاس واخستو او هغه یې معاویه ته ورکړو حال دا چې امام حسن علیه السلام تر سولې په وړاندې او وروستو لیکونو کې په څرګنده لیکلي دي چې زۀ د خلافت زیات لائق او وړ یم او کله چې معاویه د کوفې جومات په منبر وویل چې امام حسن علیه السلام زۀ د خلافت وړ ګڼم او ماته یې خلافت راکړو نو امام حسن علیه السلام د خلقو په غونډې کې پاڅید او وې ویل معاویه دروغ وایي، بیا امام(ع) په خپل فضیلت کې خبرې وکړې، په مباهلې کې یې ګډون ته اشاره وکړه او وې فرمایل: مونږ د قران او پیغمبر(ص) د حدیثونو له نص سره سم افضل او غوره یو او هم ځکه د خلافت وړ یو. خو نورو په مو ظلم وکړو او زمونږ حق یې وخوړو.[31]

تر دې چې تیر شو د سولې په یوې مادې کې هم لیکل شوي چې امام به معاویه ته امیرالمؤمنین نه وایي نو څرنګه ممکنه ده چې امام حسن علیه السلام له هغه سره بیعت کړی وي؟ او که له هغه سره یې بیعت کړی وی نو پکار وه چې د هغۀ په حکم یې عمل کولی. خو تاریخ ګواه دې چې هیڅ کله یې د هغه حکم ونۀ منلو د خوارجو کسان چې کله د معاویه په خلاف جنګ ته راووتل. معاویه امام حسن علیه السلام ته وویل چې له هغو سره وجنګیږي خو

---

31 . بحارالانوار ج 44 ص 62

امام حسن علیه السلام بلکل د هغۀ خبرې ته پام ونۀ کړو او وې ویل که ما غوښتل چې له مسلمانانو سره وجنګیږم نو لومړی به له تاسره جنګیدم[32] نو له دغو حقائقو څرګنده ده چې ځینو لیکوالو چتې خبرې له دروغو پرته بل څۀ نه دي. امام حسن علیه السلام د اسلام دګټو لپاره سوله کړي وه نۀ د دې لپاره چې معاویه يي د خلافت قابل ګڼلو.

## بې ځایه اعتراض

ځینې لیکوالان وایي چې مشر او لارښود باید په کارونو کې د ټولنې د غوښتنیو پیروي وکړي نو امام ولې د هغو خلقو خبره ونه منله چې له معاویه سره يي جنګ غوښتلو؟ د دې ځواب دا دی چې د جنګ دوام او اوږدیدل د اسلام او مسلمانانو په ګټه نه ؤ نو دا ښۀ خبره نه وه چې امام د هغوي خبره منلې وی. ډیر ځایونه داسي دي چې پیغمبر(ص) یا امام ځني کارونه کړي دي چې په هغه وخت د هغو په ګټه نه پوهیدل خو ورو ورو د هغه کار په مصلحت او ضروري والي پوه شول مثلا پیغمبر(ص) چې کله له مسلمانانو سره د خداي کور د زیارت لپاره روان شو او حدیبې ته ورسید قریشو مکې ته د هغوي د ورتګ مخه

---

32 . کامل ابن اثیر ج 3 ص 208 ، حیاة الامام الحسن بن علي ج 2 ص 279

ونیوله ځکه چې بې له مخکنۍ اجازه د پیغمبر(ص) او د هغه د یارانو ورتګ یې له ځان لپاره یو سر ټیټی او سپک والی بلل ډیر تګ راتګونه او خبرې اترې وشوې او باالاخره د دریو کالونو لپاره په دغو شرائطو سوله وشوه

۞ . په راتلونکې کال به قریش درې ورځې خانه کعبه مسلمانانو ته پریږدي چې هغوي پکې په ازاده خپل مذهبي کارونه او مراسم تر سره کړي.
۞ . تر دریو کالو پورې به مسلمانان او قریش په یو بل غرض نه لري او په مکې کې به د مسلمانانو لپاره تګ راتګ ازاد وي.[33]
۞ . د مکې مسلمانان به په خپل دین په ځرګنده عمل کوي.
۞ . په دغو دریو خبرو به په دې شرط عمل کیږي چې که څوک له مکې وتښتیدل او مدینه ته یې پناه یوړه نو په مسلمانانو لازمه ده چې هغه مکې ته واپس کړي خو که څوک له مدینې وتښتیدل او مکې ته یې پناه راوړه نو ضروري نه ده چې قریش یې بیرته ستون کړي.[34]

د اسلام ګران پیغمبر (ص) د دغې سولې له مفادو سره موافق او راضې شو خو ځینې مسلمانان د دې سولې په وروستي

33 . تاریخ یعقوبي ج 2ص 44 – 45
34 . بحار ج 20 ص 367- 368

بند ډیر معترض وؤ او سوله یې نه منله پیغمبر(ص) وفرمایل:
اَنَا عَبْدُاللّٰه وَ رَسُولُهُ لَنْ اَخَالفُ اَمْره و لَن یضِیعني (یعني زهٔ د خداي رسول او بنده یم هیڅ کله د هغه د فرمان نافرماني نهٔ کوم او پوهیږم چې په دې کې ماته تاوان نه رسي.[35]
او همداسي وشوه ځکه چې څه موده پس د دې سولې مصلحتونه ټولو ته څرګند شول ځکه چې د جنګ د ختمیدو او د مسلمانانو په تګ راتګ سره مشرکانو د اسلام حقیقته خبر شول. اسلام یې په زړهٔ کښیناست او اکثره مسلمانان شول او د سولې په همدغو څو کلونو کې اسلام د مکې عام دین شو.[36]
" زهرې " وایي د سولې په دغو دوو کلونو کې د مسلمانانو شمیر د مخکې کلونو له مسلمانانو زیات شو.
ابن هشام لیکې: زهري رښتیا وا یي ځکه چې مسلمانان چې کله حدیبې ته راغلل نو څوارلس سوه تنه وؤ خو دوه کاله وروسته د مکې د فتحې په وخت لسو زرو تنو ته رسیدلې وؤ نو څوک چې د پاکو امامانو په امامت ایمان لري پکار نه ده چې د امام حسن علیه السلام په سولې نیوکه وکړي لکه څنګه چې له قریشو سره د پیغمبر (ص) په سولې نیوکه نهٔ ده پکار.[37]

---

35 . سیرة ابن هشام ج 4 ص 317
36 . بحار ج 20 ص 367
37 . سیرة ابن هشام ج 4 ص 322

ابوسعيد عقيصا وايي: امام حسن ته مې وويل چې ولې دې له معاويه سره سوله وکړه حال دا چې تۀ په حقه يې او معاويه ظالم او ګمراه دی؟ امام حسن عليه السلام وفرمايل: چې ايا زۀ له خپل پلاره وروسته امام او د خداي حجت نه يم؟ ما ووي ولې نه يې. نو وې فرمايل: ايا پيغمبر(ص) زما او د ورور په باره کې نۀ دي ويلي:

" الحَسَنُ وَالحُسَينُ اِمامانِ قَامَا اَو قَعَدا" يعني امام حسن عليه السلام او حسين عليه السلام امامان دي که پاڅون او قيام وکړي او که يې ونه کړي"

ما وويل "هو" نو وې فرمايل زۀ امام يم که پاڅون وکړم او که وې نه کړم بيا يې ده خپل نۀ پاڅون سببونه وفرمايل په هماغو سببونو مې معاويه سره سوله وکړه چې پيغمبر(ص) له بني ضميره بنی اشجع او له مکې والؤ سره په حديبيې کې کړې وه فرق يوازې دا دی چې هغوي کافران وو او معاويه او د هغه ملګري د کافرانو په حکم کې دي.

ای ابو سعيده که زۀ د خداي له خوا امام يم نو زما خوښې ته سپک مۀ ګوره ځۀ دا چې مصلحت يې له تا پټ وي زما او ستا مثال د خضرعليه السلام او موسی عليه السلام په شان دی خضر عليه السلام به داسې کارونه کاول چې موسی عليه السلام به پرې نه پوهيدو او غصه کيدو به خو چې خضر عليه السلام به د هغو په مصلحتو خبر کړو نو کراره به شو ما هم ستاسو غصه پارولې ده او سبب يې دا دی

چې زما د کار په مصلحت نۀ پوهیږئ خو دومره پوه شه چې که له معاویه سره مې سوله نه وې کړی سم مسلمان به په زمکه نۀ ؤ پاتې.[38]

معاویه د حکومت له کنټرولولو وروسته خپله سمه او حقیقی څیره څرګنده کړه او په "نخیلې" کې یې په لویې وینا کې وویل: په خداي قسم د دې لپاره مې له تاسو سره جنګ نه دي کړی چې مونځ ګزار شئ او روژه ونیسئ بلکه د دې لپاره وجنګیدم چې په تاسو حکومت وکړم چې دا دی اوس ورته ورسیدم نو دا اعلان کوم چې هغه ټول شرطونه چې په سوله لیک کې مې له امام حسن علیه السلام سره منلې دي چخښې کوم.[39]

## مدینې ته ستنیدل

معاویه له هره خوا او هر نظره په امام حسن علیه السلام او د هغه په ملګرو تنګسا راوسته هغو به یې ازارول او د حضرت امام علي علیه السلام او د هغه د کورنۍ سپکاوې به یې کوو کله خو به دا سپکاوی دومره زیات شو چې د امام حسن علیه السلام په وړاندې به یې په مجلسونو کې علی علیه السلام ته بد رد ویل که څه هم امام حسن علیه السلام به ورته غاښ ماتوونکی ځواب ورکوؤ خو کوفې کې پاتې کیدل د هغوي په ګټه نۀ وؤ نو مدینې ته راستون شو

38 . بحار ج 44 ص 1

39 . بحار ج 44 ص 9

خو په مدينې کې هم د دوي لپاره پاتې کيدل اسان کار نه وؤ ځکه چې د مروان په نوم د معاويه يو کس چې ډير پليد سړی ؤ، د مدينې حاکم ؤ هغه کس چې پيغمبر(ص) د هغه په حقله فرمايلي وو: "هُوَ الوَزع اِبنِ الوَزَع المَلعُون اِبن الملعون"[40]

دځ د امام حسن عليه السلام ژوند ډير تنګ کړو تر دې چې د امام کور ته د هغوي د ملګرو تګ راتګ سخت ؤ نو ځکه سره د دې چې امام حسن عليه السلام لس کاله په مدينې کې تېر کړل خو د هغوي ملګرو د هغوي فيض او علمه ډيره کمه استفاده وکړه او له همدي امله د دې امام روايتونه ډير کم دي.

مروان کوشش کولو چې امام حسن عليه السلام په وړاندې امام علي عليه السلام ته بد رد ووايي او کله کله به يې نور کسان تيارول چې د امام حسن عليه السلام سپکاوی وکړي.[41] په دغو لسو کلونو کې له مروانه وروسته چې څوک هم د مدينې ګورنر شو امام حسن عليه السلام او د هغه ملګري يې زورولي او ازار کړي دي.

## شهادت

---

40 . حياة الامام الحسن بن علي ج **1** ص **218**

41 . تاريخ الخلفاء سيوطي ص **190**

معاويه چې د امام حسن عليه السلام د
کم عمرۍ په وجه دې ته تيار نه شو چې
خلافت هغه ته پريږدي، کوششونه شروع
کړي وو چې د خپل پليد او رذيل ځوي
يزيد لپاره ولي عهدي مسلمه کړي چې د
دۀ له مرګه وروسته د هغۀ په حکومت کې
کومه ستونزه رامنځته نشي خو په دې
لاره کې يې امام حسن عليه السلام لويې
خنډ ګڼلو ځکه چې ګمان يې کولو چې د
ده له مرګه وروسته به خلق بيا امام
حسن عليه السلام ته ستانۀ شي ځکه چې
خلق د معاويه له کورنۍ راضي نۀ وو نو
څو څو ځله يې کوشش وکړو چې امام حسن
عليه السلام شهيد کړي او باالاخره په
يو سازش سره يې هغه امام په زهرو
شهيد کړو او هغه مبارک د هجرت د
پنځوسم کال د صفرې د مياشتې په 28
نيټه شهيد او د مدينې په بقيع اديرې
کې خاورو ته وسپارل شو.
د خداي سلام دې وي په هغۀ.

✡ ✡ ✡